# پانوف بابا



ده په انجیل کی ولوستل چی څرنګه د ختیځو ملکونو څو شتمن سړي د زیات مزل له وهلو وروسته راغلل او عیسی مسیح ته یی قیمتي او ښکلي د سرو زرو سوغاتونه او عطرونه راوړل، پانوف بابا له ځانه سره ویل: "ای خدایه! که عیسی نن ما ته راشي له ما سره به داسی شئ ونه موندل شي چی ده ته یی ډالی کړم."

ناڅاپه یی سترګی د تورو عینکو ترشا وځرخیدی او له خوشالی نه وځلیدلی. په داسی حال کی چی د خوشالی موسکا یی په شونډو خوره وه یو فکر یی په ذهن کی وګرځید. له ځایه اوچت شو او د لوړی الماری خواته لاړ او یو ه غوټه یی چی په رسی تړلی وه راښکته کړه. غوټه یی پرانیسته او یوه جوړه کوچني بوټان یی له غوټی نه راوایستل. ده دا کوچني بوټان په خپلو لاسونو کی ونیول په ځیر او مینی سره یی بوټانو ته کتل، ځکه دا تر ټولو ښه او ښکلي بوټان وو چی ده تر اوسه پوری جوړ کړي وو.



پانوف بابا په ډیر احتیاط بوټان بیرته په غوټه کی تاو کړل او د الماری دپاسه یی کیښودل. ده له ځانه سره ویل: "دا تر ټولو ښه سوغات دیٔ چی کولای یی شم هغه ته یی ورکړم." بیا یی اوږد اسویلیٔ وکیښ او د کتاب خوا ته راوګرځید، زیار یی وایست چی د لوستل شویو خبرو په باره کی ښه او ژور فکر وکړي.

کرار کرار د لوستلو او د هوا د ګرمی له کبله خوب پری راغیٔ، لاسونه یی د کتاب له مخه په څوکی وښوییدل او په ژور خوب ویده شو.





دباندی وریځی ورو ورو ټینګیدلی، زوړ موچي د خوب په سمندر کی لاهو شو. ناڅاپه یی یو غږ واورید چی ویل یی: "پانوف بابا!" دی له خوبه راویښ شو او ویی پوښتل: "څوك یی؟" ده خپل شاوخوا وکتل، لیری خوا ته ځیر شو خو هیڅوك یی ونه لیدل. یوه شیبه چرتونو پسی واخیست، چی هماغه غږ یی بیا تر غوږو شو: "پانوف بابا! تا غوښتل چی کاشکی دی زه لیدلای وای اوستا دوکان ته درغلیٔ وای او تا ماته سوغات راکړیٔ وای، سبا ما ته سترګی په لاز اوسه او بهر ته ګوره چی ستا لیدلو ته درشم. مګر پام کوه ترڅو ما وپیژنی، ځکه زه خپل ځان نه درپیژنم." وروسته بیا بیرته چوپه چوپتیا خوره شوه.

پانوف بابا هك پك له خوبه پاڅید، سترګی یی وموښلی په داسی حال کی چی له خپله ځایه پاڅیدلیٔ وو له ځانه سره یی ویل:"هغه وو، په خپله هماغه وو، عیسی وو."

دی نه پوهیده چی دا خبری ده په خوب کی لیدلی او یا یی په ربښتیا سره اوریدلی وی. ولی دا خبره ده ته زیاته مهمه نه وه. مهمه ده ته د عیسی وعده وه، چی سبا د ده لیدلو ته راځي. په دی هیله چی عیسی به وپیژني له ځانه سره یی وویل: "خدایه شکر، خدایه شکر." بیا یی ورو وویل: "زه به ډیر کوښښ وکړم چی هغه وپیژنم." پانوف بابا خپله ډیوه مړه کړه او په آرام خوب ویده شو.

سبا له لمرختو نه مخکی له خوبه راپاڅید، په خوشالی سره یی په نغری کی اور بل کړ چی د غرمی لپاره مزه داره ښوروا پخه کړي. د سهار چای یی جوړ کړ او دیګیٔ یی په نغري کیښود تر څو وکولای شي په آرام زړه او کافي وخت سره د کوڅی لارویان یو، یو وڅاري.

پانوف بابا د کار جامی واغوستی او د کړکی خواته د خپل میز تر شا د عیسی د لیدلو په تمه کښیناست. پانوف بابا د تیری شپی د پیښو په تآل کی زنګیده چی آیا ده یواځی یو خوب لیدلیٔ وو؟ او یا دا چی په ربښتیا سره یی د عیسی غږ اوریدلیٔ وو؟



داشیبه یی له لیری نه یو څوك ولید چی رانږدی کیده. پانوف بابا د کړکی پر مخ خولی پاکی کړی او خپل مخ یی په هنداره ونښلاوه. دی ډیر هیجانی شوئ وو له ځانه سره یی وویل: "ښایی همدا عیسی وي چی غواړي زما خوا ته راشي!" ده خپل ټول پام د همدی سړي خواته کرځولئ وو. دا سړئ ورو ورو د کوڅی له اړخ نه د کړکی خوا ته رانږدی کیده، ترڅو چی هلته راورسید او ودرید. پانوف بابا هغه وپیژانده او پوه شو چی هغه څوك دئ، هغه یو سپین ږیرئ جاروکښ وو چی هره اونی به له خپلی جارو او وړی کراچی سره د کوڅی د پاکولو لپاره راته.

پانوف بابا ډیر ناامیده او خپه شو ځکه چی دئ د بل چا د لیدلو په انتظار وو. یعنی دئ عیسی ته سترکی په لار وو.



پانوف بابا د کړکۍ له خوا نه راوګرځید او سترګې په لاره وو چې جاروکښ د ده د دوکان له مخې نه تیر شي. مګر کله چې پانوف بابا یو ځل بیا راوګرځید، ویې لیدل چې جاروکښ لاهماغلته د پانوف بابا لـه کړکۍ نه آخوا پـه کوڅه کې ولاړ وو. ده خپله جارو په ځمکه ایښې وه او د سړې هوا له کبله یې لاسونه سره موښل او پښې یې په ځمکه وهلې چې په دې ډول ځان لږ څه تود کړي.

پانوف بابا د بوډا جاروکښ د وضعې په لیدلـو زیات خپـه شو او لـه ځانـه سره یې وویل: "ای خدایه! دا سړۍ ان د کرسمس پـه ورځ هم بـاید کـار وکړي!" بیـا پانوف بابـا کړکۍ وتکوله تر څو د سپین ږیري پام ځان ته راوګرځوي، مـګر بوډا سړي د ده غږ وانـه وریده او پانوف بابا ته یې پام نه شو. له همدې کبلـه پانوف بابـا د کوچنۍ دروازې خوا ته ولاړ، دروازه یې پرانیسته او جاروکښ ته یې ناری کړې.

ده د وره له اړخ نه جاروکښ ته چې هلته نږدې ولاړ وو غږ کړ. بوډا جاروکښ چې په سوچونو کې ډوب وو په وارخطایۍ راوګرځید او ویې کتل. خلکو به دئ د خپل کسب او کار له کبله څوراوه او سپکې سپورې به یې ورته ویلې. ولې پانوف بابا د نورو خلکو خلاف په ورین تندي او زیات احترام ورته وویل: "راځه دوکان ته دننه راشه، ځان لږ څه تود کړه او آرام وکړه."

جاروکښ چې د زړه له کومې د دې خبرې له اوریدو نه خوشاله شوئ وو، د کوچني دوکان خوا ته راغئ او ویې ویل: "په رښتیا چې تاسو په ما باندې ډېره مهرباني وکړه، ځکه همدا اوس مې له یخنۍ نه هډوکي درد کوي." هغه له خپلو جامو نه واورې وڅنډلې او پښې یې په ځمکه ووهلې ترڅو چې د بوټانو له پاسه واورې یې تویې شي او په داسې حال کې چې د ستومانتیا او یخنۍ له کبله لړزیده دوکان ته راننوت.



پانوف بابا، بوډا جاروکښ ته وویل: "ځان ته زحمت مه ورکوه، زه به دا ځای په خپله پاك کړم ځکه چې له ما نه هم دا ځای ککړیږي. راځه کښینه او چای وڅښه." جاروکښ زیاته مننه وکړه، پانوف بابا په داسې حال کې چې لوی چایجوش یې د نغري له پاسه را اخیست او په ګیلاسونو کې چای اچاوه وویل: "زه یواځې همدومره کولای شم او سربیره پر دې نن د کرسمس ورځ هم ده."





پانوف بابا بیا د کړکۍ خوا ته ولاړ او د باندې یې کتل. بوډا جاروکښ په نیولي آواز پوښتنه ترې وکړه: "آیا کوم چا ته سترګې په لار یې؟" پانوف بابا په داسې حال کې چې خپل سر ښوراوه وویل: "نه، نه په ربښتیا آیا تا تر اوسه پورې د عیسی په هکله څه اوریدلي دي؟" جاروکښ په ځواب کې ورته وویل: "مونږ بې سواده خلك یاستو او په همدې علت زیاته مطالعه نلرو ولې آیا ستا مقصد له هماغه پیغمبر نه، نه دی چې وایي له پیغلې مریمې نه زیږیدلئ او هغه د عمانوئیل یا خدای له مونږ سره په نوم یادوي؟" پانوف بابا ځواب ورکړ: "بالکل سمه ده زما مقصد هماغه دئ. همدا عیسی نن دلته ما ته راځي او زه هغه ته سترګې په لار یم." جاروکښ په حیرانتیا او مینې سره پانوف بابا ته وکتل او په داسې حال کې چې باور یې نه راته، خپل سر وښوراوه اوهیڅ یې ونه ویل. پانوف بابا تړوله کیسه ورته وکړه او په پای کې یې وویل، نو ځکه زه ژر ژر بهر ته ګورم.

جاروکښ خپله د چایو پیاله د میز پر سر کیښوده او په داسې حال کې چې د دروازې خواته روان وو وویل: "ډیر ښه زه ستا بریالیتوب غواړم." او د لمړي ځل لپاره یې وخندل او پانوف بابا ورته وویل: "بیا راشه، خوشالیږم، زما د کور دروازه تل ستا پر مخ پرانیستې ده."

پانوف بابا په داسې حال کې چې د دروازې نه دباندې د بدرګې لپاره ولاړ وو، کتل چې څرنګه خلکو ښکلې او نوې جامې اغوستې دي او د میلاد د اختر او د خپلو خپلوانو د لیدلو لپاره په بیړه له کوڅې نه تیریږي. خلك په داسې حال کې چې د ده تر مخې تیریدل ده ته به یې سلام کاوه او د اختر مبارکي به یې ورته ویله. پانوف بابا به په خواب کې مسکئ شو او خپل سر به یې ورته ښوراوه. د لمر وړانګې هرې خوا ته خورې وې او په خپل کم حرارت سره یې پرخې او د کړکیو له پاسه واورې ویلولې او په کوڅه کې یې د فرش شوو ډبرو پر مخ کنګلونه اوبه کول.



# پاپانوف بابا

## VATER MARTIN

## Papa Panov

RUBEN SAILLENS
Adapted by LEO TOLSTOY
Retold by Mig Holder Illustrated by Tony Morris



په همدی وخت کی کله چی پانوف بابا غوښتل دوکان ته ننوځي په یو چا یی سترګی ولګیدی او ورته ځیر شو. یوه میرمن یی ولیدله چی ډنګر مخ او الوتی بڼه یی لرله او یو ماشوم یی په غیږ کی وو. پانوف بابا له ځانه سره سوچ وکړ او ویی ویل: " دا میرمن خو ما ته اشنا نه ښکاري، باید مساپره وي."

میرمنی ماشوم په خپله غیږ کی ټینګ نیولئ وو ترڅو د خپل ځان په تودوخی سره هغه تود وساتي. د پانوف بابا زړه په دی میرمنی باندی وسوځیده او په ډیر احترام یی هغی ته ناری کړی: " درنی میرمنی راځه هوا سړه ده، ښایي یخني مو شوی وي دننه راشئ." میرمنی په بی باوری سره ده ته سترګی ورواړولی لمړئ یی فکر وکړ چی ژر تر ژره له دی ځای نه لیری لاړه شي، مګر کله چی یی د موچي له مهربانی او مینی نه ډکو سترګو ته وکتل د هغه بلنه یی ومنله او دکان ته راننوته.



میرمنی وویل: "تاسو ډیر مهربانه یاست."

پانوف بابا تری وپوښتل: "آیا زیات مزل مو په مخ کی دئ؟" میرمنی په ډیر غمجن انداز ورته وویل: "هو، تر هغه بل کلي پوری فکر کوم چی دری کیلومتره لاره به وي." بیا یی خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ویی ویل: "زه د یوه سرتیري میرمن یم چی اوس یوه لیری سنګر ته استول شوئ دئ، او دا څو موده کیږي چی له خپل خاوند نه هیڅ احوال نه لرم، د دی ماشوم په وجه هیڅوك ما ته کار نه راکوي. په دی وروستیو وختو کی می په یوه میلمستون کی کار پیدا کړئ دئ چی یوه اونۍ وروسته به پیل شي. له نیکه مرغه د میلمستون څښتن له ما سره مرسته وکړه او حاضر شویدئ چی دا اونۍ په وړیا توګه او د کرایی له ورکولو نه پرته هلته واوسیږم، اوس غواړم چی هلته لاړه شم."



پانوف بابا په داسی حال کی چی ماشوم د هغه له مور څخه اخیستـ تر څو چی مور یی د نغري تر څنګه وکړای شي ځان ښه تود کړي، وویل: "تاسو کولای شئ د غرمی ډوډی لپاره دلته پاتی شئ." مګر میرمنی د شرم او خجالت له کبله موافقه ونکړه او ویی ویل: "که لږ څه شیدی وي چی خپل ماشوم ته یی ورکړم ډیره مهرباني به مو وي." پانوف بابا وویل: "ډیر ښه، ولی نه"

پانوف بابا په خپله ماشوم ته شیدی ورکړی او نغري ته یی نږدی راووړ ترڅو ښه تود شي او ویی ویل: "ماشومان زما ډیر خوښیږي." او له ماشوم سره په لوبو بوخت شو. ماشوم خندل او لاس او پښی یی وهلی. ناڅاپه د پانوف بابا پام شو چی د ماشوم پښی لوڅی دي. هغه د ماشوم مور ته مخ ورواړاوو او ویی ویل: "څرنګه ستاسو ماشوم په دی ساړه ژمي کی بوټان نه لري؟" میرمنی په غمجن حالت سره ځواب ورکړ: "په دی بدی وضعی او حالت سره کله کولای شم چی خپل ماشوم ته بوټان واخلم."

پانوف بابا په چټکی لاړ او بیا د الماری خوا ته ورغی، یوه غوټه یی پرانیسته او بوټان یی تری راوایستل. کوښښ یی وکړ چی ماشوم ته بوټان ورپه پښو کړي. دا بوټان د ماشوم په پښو سم برابر وو، پانوف بابا په خوشالی سره وویل: "ډیر ښه."



ده په مینه ناك غږ سره وویل: "دا بوټان زما له خوا خپل ماشوم ته ومنۍ." میرمنی په زیاتی خوشالی سره وویل: "څرنګه کولای شم ستاسو له مهربانی نه مننه وکړم." له دی خبری سره یی اوښکی پر مخ روانی شوی. د پانوف بابا د هغی اوښکو ته پام نشو، ځکه د ده ټول پام د کړکی خوا ته وو او فکر یی کاوو، نه چی هغه وخت چی دۍ له ماشوم سره بوخت وو، عیسی له هغه ځای نه تیر شوۍ وي.

له څو شیبو وروسته د میرمنی پام شو چی څرنګه پانوف بابا بهر خوا ته په ځیر سره ګوري. له دی کبله یی په ډیری مهربانی پوښتنه وکړه: "د کوم چا په انتظار یاست؟ آیا کوم میلمه در ته راځي؟" بوډا موچي ځواب ورکړ: "آیا تاسو تر اوسه پوری د عیسی مسیح په هکله کوم څه اوریدلي دي؟" میرمنی د سر په خوځولو د هوکی ځواب ورکړ.

پانوف بابا د خپلو خبرو په دوام وویل: "هغه نن ما ته راځي، هغه ژمنه راسره کړی ده، نو له همدی کبله زه هغه ته سترګی په لار یم." ده د هغه خوب په هکله چی لیدلۍ یی وو هم خبری وکړی. ځوانی میرمنی د ده خبرو ته تر پایه په دقت سره غوږ نیولۍ وو، ده ته یی په ځیر ځیر کتل داسی چی تا به ویل په دی خبرو یی باور نه راځي. اما د بوډا موچي لاسونه یی په مینه ټینګ کړل او ویی ویل: "هیله منه یم چی ستاسو هیلی او آرزوګانی ترسره شي، تاسو د دی وړ یاست، ځکه چی تاسو له ما او زما له ماشوم سره ډیره مهرباني وکړه."

د دی خبرو له ویلو سره سم میرمن پاڅیده او پړونۍ یی له خپل ماشوم نه تاو کړ او یو ځل بیا یی له پانوف بابا نه مننه وکړه او وروسته یی خپل مزل ته دوام ورکړ او ولاړه. پانوف بابا په هغی پسی دروازه بنده کړه او هغه ښوروا یی چی پخه کړی وه وخوړه او وروسته لدی نه چی لوښي او نور شیان یی سره سمبال کړل بیا په خپل ځای د کړکی شا ته کښیناست.



شیبې یو په بل پسې تیریدې او زیات خلك د ده له مخې نه دې خوا آخوا تلل او راتلل. پانوف بابا ټولو ته په ځیر ځیر کتل اما عیسی یې په کې ونه موند. دئ لږ څه غمجن شو، داسې نه چې عیسی له هغه ځایه تیر شوئ وي او ده هغه نه وي پیژندلی، ښایي هغه هم په ډیره بیړه د ده د کړکۍ له مخې نه تیر شوئ وي او ده په هماغه وخت کې پام نه وي کړئ! بوډا موچي ډیر ناطاقته شو او د کړکۍ خوا ته ولاړ چې د وروستي ځل لپاره بهر ته وګوري.

زیات خلك، ماشومان، میرمنې، بوډاګان، نارینه او ښځې، سوالګر او بې وزلي، خوشال کسان او غمجن خلك د کوځې له مینځ نه تیریدل. دئ به ځینو ته مسکئ شو او ځینو ته به یې سر ښوراوه او ځینو سوالګرو ته به یې توری پیسې او یا یوه ګوله ډوډۍ ورکوله، اما د عیسی پته ونه لګیده.



هوا ورو ورو تیاره کیده، او بوډا موچي په داسې حال کې چې غمجن ښکاریده خپل څراغ ولګاوه او په میز باندې یې کېښود. پر خپله لویه څوکۍ کښیناست او بیا یې د انجیل په لوستلو پیل وکړ.

دئ ډیر غمجن وو، په زړه باندې یې د یوه درانه پیټي احساس کاوه. سترګې یې بریښیدې، په ډیرې خواشینۍ سره یې وویل: "دا یواځې یو خوب وو! زه هسې بیځایه دومره ډاډه وم!" د اوښکو سیلاو یې له سترګو نه پر مخ وبهید، بیا یې له ځانه سره وویل: "زړه مې ډیر غوښتل چې عیسی زما کره راشي."



ناڅاپه يې داسې احساس کړل چې يو شمير کسان د ده شا او خوا ولاړ دي. ولې دئ نه پوهيده چې دا هماغه کسان دي چې نن ده ليدلي وو. هو، دوی هماغلته وو او هماغه خلك وو چې ده د ورځې په اوږدو کې ليدلي او له دوی سره يې خبرې کړې وې. دوی يې ليدل، ولې ښه يې په ځای نشو راوړلای.

ناڅاپه يې يو غږ تر غوږو شو چې ويل يې: "پانوف بابا ايا زه دې وپيژندم؟" پانوف بابا ترې وپوښتل: "څوك؟" اواز وويل: "زه، زه په خپله يم."



او د کوټې له تیاره ګوټ نه بوډا جاروکښ راووت، ویې خندل او له سترګو نه پناه شو. آواز وویل: "همدا شان هغه هم زه وم." او له تیاره کونج نه هغه میرمن له خپل ماشوم سره راووته، دواړو وخندل بیایې له سترګو نه تري تم شول. په همدې ډول سوالګر او نور هغه خلك چې پانوف بابا له هغوی سره مرسته کړې وه ټول یو په بل پسې راڅرګند شول، خندل به یې او بیا به له سترګو نه پناه شول.



مخکی تر دی چی پانوف بابا، چی پوره هك پك پاتی شوئ وو څه ووايي، اواز بيا وويل: " څرنګه چی زه وږئ وم تا ما ته خواړه راکړل، تږئ وم زما تنده دی ماته کړه، مساپر وم ځای دی راکړ، لوڅ او بربنډ وم پټ دی کړم، ناروغ وم پوښتنی ته می راغلی، بندي وم ليدلو ته می راغلی، نو په ډاګه درته وايم، هغه څه چی تا د خپلو ورونو سره وکړل، هغه دی له ما سره کړي دي." وروسته بيا هری خوا ته چوپه چوپتيا خوره شوه.



د بوډا سړي اوښکې وچې شوې وې ، نور څوك نه ليدل كيدل او پانوف بابا پوه شو چې نه وو غلط شوئ. عيسی په دې ورځ په ربښتيا هم له ده سره وو او ده ته راغلئ وو. او پانوف بابا هم له هغه سره خبرې کړې وې.

وروسته يې وخندل او خړ بريتونه يې تاو کړل او په خوشالۍ سره يې وويل: "شکر خدايه، شکر خدايه!"



# سریزه

د زیاتی خوښۍ ځای دی چی د "پانوف بابا" د مشهوری کیسی پښتو ژباړه چاپ او د کتاب مینه والو ته وړاندی کیږي. دا ښکلی کیسه د نړۍ په زیاتو ژوندیو ژبو ژباړل شوی ده.

د دی کیسی د پښتو چاپ په هکله له دی کبله تصمیم ونیول شو چی په دی وروستیو کلونو کی زمونږ زیات شمیر هیوادوال د نړۍ په ګوټ ګوټ کی د پردیسۍ سخت ژوند تیروي او په خپلو ملي ژبو کتابونه نشي تر لاسه کولای. همدا راز د هیواد په دننه کی هم د تعلیمي او روزنیز سیستم د مینځه تللو له کبله زمونږ ځوانان تنکي ځوانان او ماشومان، کتابونه او په تیره بیا ښه کتابونه نشي موندلای.

هیله لرو چی د دی وړوکي کتاب خپریدل زمونږ د ځوانانو او تنکیو ځوانانو د ادبي ذوق د لوړتیا په لاره کی ګټور رول ولوبوي او مونږ وکړای شو چی د افغاني فرهنګ او ادبیاتو په پیاوړتوب او د دی ښکلي بڼ په لا سمسورتیا کی څه نا څه خپله ونډه ترسره کړو.

د "روښن کتاب" نشراتي موسسه

لیکوال: میګ هولدر

د چاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

د خپرولو کال: ۲۰۰۱ میلادی

**1978 Mig Holder.**

**Original edition published in England under the title "Papa Panov's Special Day" by Lion Publishing, Oxford, England.**

**© Lion Publishing, 1976**



## Papa Panov

It is Christmas Day, and Papa Panov, the lonely shoemaker, is expecting a special visitor.

The things do not turn out at all as he thought... but by the end of the day the sparkle is back behind his little round spectacles.

Leo Tolstoy adapted this story from the French original by Ruben Saillens and included it in his Complete Works.

The pictures by Tony Morris bring out all its freshness and charm for a new generation of readers.

## پانوف بابا

د کرسمس ورځ ده او سپین ږیری موچي یعني پانوف بابا چی یواځی اوسیږي یوه ځانګړي میلمه ته سترګی په لار دی. کارونه د ده په زړه پرمخ نه ځي... خو د ورځی په پای کی یی یوه رڼا د کوچنیو ګردو عینکو ترشا ځلیږي.

لیوتولستوی دا زړه راښکونکی کیسه له اصلي فرانسوي متن نه چی د روبن سیلینس (Ruben Saillens) له خوا لیکل شوی اداپت او ژباړلی او د خپلو آثارو په مجموعه کی یی شامله کړی ده. دا کیسه وروسته بیا د میګ هولدر (Mig Holder) په قلم له سره ولیکل شوه.

د دی کتاب انځورونه تونی موریس (Tony Morris) کښلي دي. د دی زړه راښکونکی کیسی لوستل د لوستونکو نوي نسل ته خوشالي او تازګي وربخښي.

PASHTO

په ډیرو پخوا زمانو کی چی په مشکل سره به سړي ته وړپه زړه شي یو زوړ موچي، چی پانوف نومیده د روسیې په یوه لیری کلي کی اوسیده. مگر ده ته هیچا ښاغلیٔ پانوف یا استاد پانوف نه ویل. هر چا چی دی پیژاند، ده ته به یی پانوف بابا ناری وهلی. ځکه خلکو له ده سره ډیره مینه لرله. پانوف بابا شتمن نه وو، په دی نړۍ کی یی یواځی یوه وړه کوټه لرله چی د کوڅی په یو گوټ کی یی موقعیت درلود. دی کوټی یوه کړکۍ لرله چی له هغی نه به یی کولای شول دباندی وگوري. ده په دی کوټه کی هم ژوند کاوه، هم ویده کیده او هم به یی خپله موچي گري کوله. د کار د آلاتو سربیره یی د اوسپنی یو ښکلیٔ نغریٔ هم درلود چی د ډوډۍ په پخولو او د ځان د تودولو لپاره یی کار ځینی اخیست. ده یوه لرگینه لویه څوکۍ هم لرله، دی به په دی څوکۍ کښیناسته او چرت به یی واهه او کله به یی هم په ناستي یوه سترگه خوب کاوه. ده د خوب یو کلك او مظبوط تخت او یو وړوکیٔ تیلي څراغ هم درلود او کله چی به هوا تیاره شوه د کوټی د رڼا کولو او یا هم د مطالعی لپاره به یی له دی څراغ نه کار اخیست.



پانوف بابا ته به زیات خلك راتلل او له ده نه به یی نوي بوټان او څپلۍ اخیستی او یا به یی له ده نه غوښتل چی د دوی زاړه او شلیدلي بوټان او یا څپلۍ وګنډي او یا نوی پوندی ورواچوي. له دی کبله پانوف بابا تل په خپل کار بوخت وو او زیات وخت یی نه درلود. د ده په لاسونو جوړ شوي بوټان او څپلۍ له یوی خوا د ښه کیفیت درلودونکي وو او له بله پلوه یی بیه هم د نورو په پرتله ډیره کمه وه. د ده ګټه دومره وه چی ایله ورځنۍ ژوند یی ښه پری تیر شي. تل به خوشاله وو او کله به یی د یوی نیمی سندری زمزمه هم کوله او په خپلو ځلانده سترګو به یی د لارویو سیل کاوه او د هغوی سلام ته به یی په ډیره مینه او پراخه تنده وعلیکم السلام وایه.



مګر نن پانوف بابا د نورو ورځو په شان خوشاله نه ښکاريده، زيات غمجن او پريشانه د خپل واړه دوکان د کړکۍ څنګ ته ولاړ وو او د خپلې ميرمنې اوماشومانو په هکله يې فکر کاوو چې څو کاله مخکې مړه شوي وو. د کرسمس د اختر ورځ وه هرچا له خپلې کورنۍ سره په خپل کور کې د اختر د خوشالۍ مراسم ترسره کول. هېڅوك په کوڅه کې نه ليدل کيدل. پانوف بابا د کوڅې پای ته ځير شو، د کرسمس د ونو د شمو او څراغونو رڼا ته يې کتل چې د کورنو له کړکيو نه دباندې ځليدلې. ده د ماشومانو د خندا او مستۍ غږونه د ګاونډيانو له کورونو څخه اوريدل. د پانوف بابا د مخ غوړيدلۍ حالت بدل وو. ده په داسې حال کې چې خپلو خړو بريتونو سره لوبې کولې او د خپلو غمځپلو سترګو په واسطه يې بهر ته کتل، د خپلو خوښيو نه ډکو ورځو په هکله يې هم فکر کاوه چې ده له خپلو بچيانو او خپلې ميرمنې سره تيرې کړې وې. مګر له بده مرغه هيڅوك نه وو چې ده ته داډ ګيرنه ورکړي، ده له ځانه سره همدا ويل: "دريغه، دريغه."

ناڅاپه، په حال راغئ او پام يې شو چې هوا تياره شوې ده، نو يې ورو خپل څراغ روښانه کړ او بيا يې د الماری له پاسه يو پخوانئ کتاب چې قهوه يي رنګه پوښ يې درلود راکوز کړ. دا د انجيل کتاب وو. ده له هغه وخت نه د انجيل لوستل شروع کړي وو چې يوه ورځ يوه سړي ده ته ويلي وو: " که غواړې روحي آرامي او خوښي ترلاسه کړې بايد چې له خدای سره ژوند وکړې. له خدای سره ژوند کول او حقيقي خوشالي بايد په عيسی مسيح او د هغه په کتاب کې ولټوې."







ده هغه دوړی او خاوری چی د کتاب پر مخ پرتی وی پاکی کړی او کتاب یی د میز له پاسه کیښود. چایجوش یی پر نغري باندی کېږ، په خپلی غټی لرګینی څوکۍ کښیناست او د کتاب په لوستلو یی پیل وکړ. پانوف بابا په خط ډیر نه پوهیده او نه یی شول کولای چی په ښه صورت سره کتاب ولولي. له همدی کبله یی د لوستلو په وخت کی ګوتی تر کرښو لاندی نیولی او هره کلمه به یی په لوړ آواز لوستله، د کتاب دا برخه یی چی اوس لوستله د حضرت عیسی د زیږیدنی د څرنګوالي او د کرسمس د ورځی په هکله وه. ده لوستل چی څرنګه یو وړوکۍ ماشوم د عیسی په نوم په یوه ساړه آخور کی وزیږید! ځکه چی د ده مور مریم، د ده د زیږیدو په وخت، په کاروانسرای کی مناسب ځای و نه موند.



پانوف بابا سوړ اسویلئ وکیښ او ویې ویل: "لویه خدایه، که دوی دلته وای کولای یې شول چې زما په ښکلې بستره کې ویده شي او ما کولای شوای چې دا کوچنئ ماشوم په خپله ښایسته بړستن کې پټ کړم. ما کولای شوای چې دې ماشوم سره لوبې او خبرې وکړم."

پانوف بابا له خپله ځایه پاڅید او په نغري کې یې سیخ تاو کړ تر څو چې اور ښه بل شي. کله چې د څراغ خوا ته راوګرځید، ګوري چې تورو لوخړو دباندې هوا نیولې ده، نو ځانته یې یوه پیاله چای واچاوه او د خپل کتاب په لوستلو بوخت شو.